دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ

۰۴ فبروری ۲۰۱۸

# السَّوادُ الاعظم- ۱۱

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**اوولسمه مسئله**

داده چی داعمالو نامه(لیک) حق وګڼی.اوهرڅوک چی تری منکرشی، هوادار اومعتزلی دی.ځکه چی دخدای عزّوجلّ کتاب پدی سره ناطق دی. قوله تعالی: اِقْرآءَ کِتَابَکَ بِنَفسِکَ الیَومَ عَلَیکَ حَسیبا. اوبل ځای فرمایی: فَاَمَّامَن اُوتِیَّ کِتَابَهُ بِیَّمِینِهِ. اوبل ځای فرمایی: کَلَاّ اِنَّ کِتَابَ الفُجار.... اوبل ځای وایی: وَکُلَّ اِنسَانِ اَلْزَمنَاهُ طَائِرَهُ عُنُقِهِ وَنُخرجُ لَهُ یَومَ القِیمَةِ کِتاباً یَلقِیهِ مَنشُورا. اوبل ځای فرمایی: وَاَمَا مَن اُوتِیَّ کِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهرِهِ.

اورسول وویل علیه الصلواة والسلام: دقیامت په ورځ به بنده خپله نامه ګوری اوحج به وینی، اوغزا به وینی، اوصدقه اوزکواة به وینی چی هغه په دنیا کی ندی ترسره کړی. وایی به: ای خدایه! دازما نامه نده! ژغ به وشی: ریښتیا وایی، دغه طاعتونه تا ندی ترسره کړی! ولیکن ویل به دی اوفکربه یی دی کاوه، که مال وای ،نوحج به دی کړی وای، اوغزابه دی کړی وه اوصدقه به دی ورکړی وای! پس په هماغه نیک نیت چی کړی دی و، مونږداټول ستا داعمالو په نامه کی ثبت کړل اوستاهغه نیت موقبول کړ.(سُبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم).

اوپه خبرکی راغلی: چی دقیامت په ورځ به بنده خپلی داعمالو نامی ته ګوری، ډیری نیکی به وګوری چی ده نه وی کړی. وایی به : ای خدایه! دادخیراعمال ماندی ترسره کړی! فرمان به راشی: چی ای بنده! خلکو ستا غیبت کاوه اوته نه پوهیدی.مونږ وفرمایل چی دهغه خلکو نیکی په تاپسی ولکل شی. اوبل ته نامه وکړای شی ولی هیڅ دخیرکارونه به ونه ګوری. وایی: یاربّه ما به دنیا کی طاعات اوخیراتونه ډیر ترسره کړی اوپه دی نامه کی یی نه ګورم. دحق لخوابه فرمان راشی: ستا طاعات اوخیراتونه موهغو کسانو ته ورکړل چی تایی غیبت کاوه په دنیاکی.

اورسول الله علیه الصلواة والسلام ویلی: هرڅوک چی په دنیا کی په صدق سره ووایی چی: لاَ اِلَهَ اِلّاالله محمّدُ رَّسوُل الله. دغه وینا به دده په نامه کی ولیکل شی او ګناهونه به یی له نامی پاک کړای شی، ترهغی ځایه چی داکلمه یی ویلی وی. اوپه دی هکله ډیرآیات اواخبارراغلی دی. هرڅوک چی منکرشی کافردی. همدومره بس دی هوښیارلره.

**اته لسمه مسئله**

داده: چی دقیامت ورځی شمیر اوحساب حقووینی. اوهرڅوک چی حق ونه ګڼی هواداره دی. ځکه چی : دخدای عزّوجلّ په دی سره ناطق دی. قوله تعالی: مَالِکَ یَومِ الدِّین. دقیامت ورځی پادشاه.ای دشمیر اوحساب ورځی.

اوپه بل خبرکی ویلی: مَن نُوقِشَ الْحِسابَ عُذبَ: هرڅوک چی یی په حساب کی راکش کړ، عذاب یی کړ.

اورسول علیه الصلوة او السلام کله چی له غزا څخه راغلی و اودخرما په یوه باغ کی راکښته شو اواستراحت یی وکړ. یو سړی دخرما باغ ته راغی او په فریاد یی ویل: المستغاث یا رسول الله! رسول علیه الصلوة اوالسلام وویل: ته څوک یی؟ وویل زه ددی باغ خاوند یم. رسول علیه الصلوة اوالسلام وویل: مړیی که ژوندی؟ وویل : مړ یم.

رسول علیه الصلوة والسلام وویل: څومره موده کیږی چی مړ شوی یی؟ وویل : اوه ویشت کاله وشول چی مړشوی یم اوپه دی موده کی یوساعت هم له عذابه نه یم خلاص. وویل : ولی؟ وویل: کله چی مړشوم نو زه یم له عرشه په پښو ځړولم. فرمان راغی چی دخرما دباغ حساب ورکړه! ومی ویل :لویه خدایه! طاقت یی نلرم. فرمان راغی چی دیوی ونی حساب ورکړه! ومی ویل: لویه خدایه طاقت نلرم اوزاری می وکړی. فرمان راغی چی دیوی خرما حساب ورکړه! اوس اوه ویشت کاله کیږی چی دهغی یوی خرما په حساب کی بند پاته یم.

**نولسمه مسئله**

داده: چی تله حق وګڼی اوهرڅوک چی حق ونه ګڼی هواداره دی. ځکه چی ترازو حق ده هم دخدای تعالی په کتاب اوهم درسول الله صلی الله علیه وسلم په اخبارکی.

ولی کتاب: فَاَمَّآ مَنۡ ثَقُلَتۡ مَوازِینُهُ فَهُوَ فِی عِیشَةٍ رَّآضِیّه، وَاَمَا مَنۡ خَفَّت مَوازِینُهُ فَاُمُّهُ هَاوِیه.

ولی په خبرکی دی: چی رسول علیه الصلوة ولسلام وویل: بنده دترازو خواته راوړل کیږی اوکرداریی تلل کیږی. که دنیکی پله درنده شی، جبرئیل علیه السلام به نداکړی :اَلا اِنّ فلان سَعَد سعادةٌ لایَشقی بَعدهُ اَبَداً.وایی: واوری اوپوه شی ! چی فلان ابن فلان نیک بخته شو ، چی هیڅکله به بدبخته نشی. اودهرچا تله چی دبدی خواته درنده شی، جبرئیل علیه السلام ږغ کړی: چی فلان ابن فلان بدبخت شو چی هیڅکله به نیک بخت نشی.

په خبرکی راغلی: چی داود علیه السلام یوه ورځ سرراپورته کړ او وویل: لویه خدایه! غواړم چی دقیامت تله وګورم. فرمان راغی چی صحرا ته بهرراشه! صحرا ته راغی. پس دقیامت تله یی ورته وښوده. هره پله دومره لویه وه چی له مشرقه ترمغربه.

(وویل) یا رسول الله! داپله څوک ډکولای شی؟ رسول علیه الصلوة ولسلام وویل: هرڅوک چی نیمه خرما دخدای درضا لپاره ورکړی، چی په هغه کی روی او ریا نه وی، حق تعالی هغه نیمه خرما دقدرت په خزانه کی پرورش ورکړی ترهغی چی دومره شی لکه داحد غر. اودقیامت په ورځ یی دنیکی په تله کی ورته اچوی ترڅو یی نیکی ډیری شی.

پس په همدی دلایلو معلومه شوه، چی ترازو حق ده. همدومره بس ده هوښیار لره.